# د تصوف ځیني اصطلاحاتو شننه

دويمه برخه : ژباړونکی: پوهنوال الکوزی تایب

**قلب دوه معنی ګانې لري:**

۱ـ د یو موټي په شان یوه ټوټه غوښه ده، چې هر انسان او هر ژوندی موجود په سینه کې ځای پر ځای ده، زړه د جسم خوځونکی دی که ودریږي نو ژوند پای ته رسیږي.

۲ـ د زړه مجازي او معنوي معنی داده، چې په صوفیانه تعبیر سره د صوفي د علم د دایرې مرکز او د سلوک حقیقت او کمال دی په ادبي او عاطفي اعتبار او له وجداني لحاظه د ادبي محسوساتو الهام بخښونکې او د ذوق سرچینه او د مینې د جذبې ټوټه او هغه څه، چې په صوفیانه کتابونو کې راغلي دي ورڅخه مجازي معنې ارایه کوي، چې د انسان وجداني عاطفي او احساس مرکزدی.

موږ په عمومي توګه پخپلو خبرو اترو کې ډیر وایو، چې مثلاً زما زړه یو ټاکلی رنګ خوښوي یا مې زړه ناراحته دی یا زړه مې تنګ دی دغه ټول د هغه زړه په هکله صدق نه کوي، چې موږ په لومړۍ معنی سره وکوت بلکې په داسې او صافو او حالاتو کې له زړه څخه یوه ځانګړې معنی مراد وي، چې هغه همدا دوهمه معنی ده.

نوصوفیانو ته زړه د یو موټي غوښې په معنی نه بلکې دا هغه لطیف جوهر دی، چې د خیر او شر د ارادې مرکز دی او صوفي د هغه د پاکولو لپاره خاص د خیر په اراده وي هڅې او مجاهدت کوي، چې دې ته د زړه تزکیه ویل کیږي.

**۶ نفس:**

د انسان په ذات کې یا په ځان اطلاق کیږي او د روح، ویني، هوا او غوښتنو او د رغبت او هیلو په معنی ګانو سره هم راغلی دی د یوشي په معنې هم کارول شوی ده.

مثلاً (النفس) یعني یو شی او دغه شی هغه نفس په قران کریم کې له (۲۰۰) ځله څخه زیات راغلی دی، نفس د تصوف موضوع ده داسې ویل شوي دي چې نفس د تصوف د دروازې کیلي ده او د تصوف د مراد ځانګړې غوره شوې موضوع ده، چې صوفي سالک د هغه د تزکیې د روښانه کولو لپاره هڅې کوي الله ج فرمايي:

ژباړه: په رښتیا چې ورغبېده هغه څوک چې خپل نفس یې پاک کړ او ډېر زیان وکړ هغه چا چې نفس یې فاسد او تور کړ. انسان څرنګه چه په نفس او دهغه په غوښتنو بریالی کیږي ددغې غلبې او بري پایله څه ده ؟ لومړی پړاو توبه ده بیا استقامت دی، یعنی دقرانکریم او نبوي سنت له تعالیمو سره سم په عبادت او معروف باندې کلک پاتې کیدل دي وروسته ورپسې د الله په ذکر دوامداره څارنه ده اود نفسي او نفس غوښتنو په وړاندې کلک دریدل دي.

**۷ ذکر:**

تصوف په اصطلاحاتو کې د خدای (ج) ذکر او یاد حدیث د سپیڅلي ذات د لمانځنې او ستاینې په معنی ده، لکه ((سبحان الله والحمد الله ولا اله الا الله)) او یو شمیر دعاګانې او درودونه په قرآن کریم کې د ذکر کلمه د لمانځه او قرانکریم په معنی سره راغلي ده لکه، چې الله (ج) فرمايلي دي.

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی ده کله، چې د جمعې د لمانځه آذان کیږي نو بیړه وکړئ او د بیع او شرا معاملې پریږدئ، دلته د لمانځه له ذکر څخه موخه د جمعې لمونځ دی.

د تصوف د ذکر کیفت دوه ډوله دی: په ژبه او په زړه کې د تصوف ځیني طریقې په لساني ذکر ولاړې دي او ځیني نورې د زړه ذکر ښه بولي، چې لومړی په ژبه پیل کیږي او وروسته تر عادت کیدو په قلبي ذکر بدلیږي.

**۸ اشــــــراق:**

د صوفیانو د اشراق مفکوره شیخ شهاب الدین یحی بن حبش سهروردي ته نسبت ورکول کیږي. سهروردي په لرغوني زنجان کې یو سیمه ده، چې د ایران په لویدیځ کې د مید یا په ولایت کې وه او له میلاد څخه زر کاله مخکې په دې سیمه کې مدیونو حکومت کاوه. پلازمېنه نه یې اکبتا نا یا اوسنی همدان وو په ۵۴۹ هـ ۱۱۵۵ ز کې هلته شیخ شهاب وزېږېده په ۵۸۷ هـ ۱۱۹۱ ز کال کې حلب په ښار کې د ملک ظاهر پر مهال د عقیدې دبې لارۍ له کبله ووژل شو لکه هماغسې چې منصور حلاج ددین د علماوو په فتوا په همداسې یو نوم ووژل شو.

داسې ویل کیږي، چې دو وروسته بیا د سهروردي په وژلو کلک پښېمانه شول. دا ځکه، چې د په بغداد کې مړشو. د اشراق مفکوره د تصوف په نړۍ کې په هجري شپږمه پیړۍ کې را د ننه شوې ده د امکان په توګه ویلای شو، چې ددغې مفکورې بنسټ پر افلاطوني فلسفه ایښودل شوی دی، داسې ویل شوي چې اشراق له افلاطوني فلسفې سره د تصوف د ګډېدو نتېجه وه.

ابو قاسم کازروني ویلې دي، لکه څرنګه چې قارابي د همداسې یوې فلسفې یعنی دارسطو د فلسفې بیا نوی کوونکی پیژندل شوی دی او هغه ته ثاني معلم ویل شوی دی.

شیخ شهاب الدین سهروردي هم د اشراقیه فلسفې مجدد دی، چې د افلاطون فلسفه ده سهروردي د اشراق د تفکر په اړه وایي که چیري موږ له جسمي طبیعت څخه ووځو او د هغه ښکنو او خوند څخه ځان وباسو زموږ په زړونو کې به خدای (ج) نور هم وځلیږي.

**۹ مشــــــاهده:**

عمرو ابن عثمان رض ویلي وو! مشاهده هغه څه دي، چې زړونه بې له غیبو څخه غیبو ته مومي او هغه نه ښکاره کوي او د خپل وجود وسیله یې نه ګرځوي همدارنګه ویلي یې دي، چې مشاهده محاضرې او نږدیوالي په معنی هم ده او مشاهده د حضور په معنی او حضور د قرب مقرون او په علم الیقین سره حقایقو ته حضور معنی لري.

**پاتې لري په راتلونکې ګڼه کې**

# ښکلي کولای شو چې خوشاله وواسو؟

په ژوند کې تل لوړې او ژورې شته خو ښکلي کولای شو، چې ځان خوشاله وساتو او د ژوند د ستونزو او ناخوالو سره مبارزه وکړو؟ د ژوند د ستونزو او د ناخوالو د مبارزو لپاره قوي هوډ، ټینګه اراده او پرځان باندې باور درلودل پکاردی.

په خپل ژوند کې باید د خلکو بې ځایه خبرو ته وخت ورنکړو او نه په بې ځایه خبرو خپل وخت و نیسو که چېرې یو څوک دیو چا ترشا بې ځایه خبرې کوي دا په دې مانا ده، چې موږ دهغوی نه څو ګامه مخ ته تللي یو، باید خپل مزلې لاپسې ګړندي کړو او د بې ځایه خبرو دکولو او آوریدلو لپاره خپل غوږونه کاڼه واچو او ژبه په ښو خبرو وچلوو، څو نور وګړي له موږه زده کړه وکړي.

موږ باید په ټولنې کې دښوونکي په توګه رول ولوبو او خلکو ته هغه لارښوونې وشي، کوم چې ورته اړتیا لیدل کیږي، نودا زموږ مسؤلیت دی، چې په ټولنه کې د شته و بې سواده وګړو لپاره عامه پوهاوی او دولس په ګټه مثبتې لارښوونې وکړو.

ښه او نیک وګړي، تل دردیږي، چې لامل یې د نورو وګړو دردونه دځان ګڼي، خو په همدغو نیکو او با احساسو خلکو پسې ډیري کسان خبرې کوي او په مختلفو القابو یې یادوي او په بیلابیلو کړنو به وړاندې تور لګوي. ولې بیا هم نیک کسان دهغوی پروړاندې هیڅ غبرګون نه ښایي او دبدو په وړاندې ښه ترسره کوي. لکه ښکلي چې په مېوه لرونکې ونې باندې تل د کاڼو ګوزارونه وي، خو ونه هغه خلکو ته د کاڼو په بدل کې میوه ورکوي.

موږ هم باید د میوه لرونکې ونې په څېر د خلکو د بدیو په مقابل کې ښېګڼه وکړو، ترڅو هغوی پخپله پوه شي چې موږ څه کو په مقابل کې موږ سره څه کیږي. د خوښیو او خوشحالیو ډک ژوند په تیرولو ډیرفکر ته اړتیا شته، چې نه څوک له موږه آزار شي، نه چاته بدې، سپکې او سپورې خبرې وکړو، دخلکو زړونه ترلاسه کړو او هغوی ته خوښي ورپه برخه کړو. نو ژر به وي، که په یادو ټکو عمل وکړو دخوشحالیو شیبې به موږ ته را په برخه شي.

دخفګان ژوند له اړه باید وویل شي، که موږ چاته بد ووایو، نو خامخا به مقابل لوري یو څه غبرګون وښایي، چې دې سره به دژوندهره ګړۍ له خپګان سره تیریږي او دخوښیو په آرمان به اوسو.

د دې پر ځای چې بې ګټې خبرې کوو، باید خپل ځان د علم او ادب په زیور سینګار کړو او دا هڅه وکړو، چې ښکلي ځان د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسو. د ځان، کورنۍ او ټولنې د خوشالولو او خدمت لپاره د بریالیتوب لارې چارې ولټوو او هېواد له شته ناخوالو څخه وژغورو، که چېرې غوارئ، چې د ژوند چارې مو په منظم ډول پر مخ بیول شي د ټولنې د هر وګړي لپاره پکار ده، چې د ژوند د اهدافو د رسیدو لپاره یو ټاکلی پلان ولري او د ورځنۍ ژوند د چارو د سمبالښت لپاره منظم مهال ویش وټاکي، چې په دې سره یې هم کارونه منظم پر مخ ځي او هم به ورته د وخت سپما وشي.

د منظم مهال ویش په درلودلو سره؛ په کم وخت کې کولای شو چې ډیري کارونه سر ته ورسو او دې سره د تفریح او سرګرمۍ لپاره وخت پیدا کولای شو چې جسم او هم موذهن آرامه او انسان ته دخوشحالیو روحیه ورکوي.

که چېري داسې پرته له پلان او مهال ویش پر مخ لاړ شو؛ نو دلته به د ذهني سرګردانۍ سره مخ او هم به موخپل چارې په سمه توګه نه وي سرته رسولي. نو له دې سره به موږ ته ذهني؛ روحي او جسمي تشویشونه او ستونزې را ولاړوي، نو هېڅکله به د خوښیو او آرامتیا احساس ونشو کړای او ځان سره به انګیرو، چې زموږ کارونه د څه له کبله پرمخ نه ځي.

نو که وغواړو، چې د ژوند په خوند ځان پوه کړو او د ژوند له سترو نعمتونو ګټه واخلو نو یوازېنۍ لاره په ځان باور او ټینګه اراده درلودل هغه څه دي، چې په ژوند کې به د خوشالیو او پرمختګونو شاهدان وواسو.

**لیکنه: بصیره شجاع »ستانکزی«**

# د ځوان شاعر ډاکټر عبدالمالک ستانیزي لنډ ژوندلیک

شاعر، لیکوال او ځوان مبارز ښاغلی ډاکټر عبدالمالک ستانیزی د اروانباد حاجي عبدالمبین زوی د لوګر ولایت د محمدآغې د ولسوالۍ د سُرخ آباد د حوزې د بهادرخېلو د کلي اوسېدونکی چې په ۱۳۶۲ هجري لمریز کال د پاکستان د پښتونخوا د شینکیارۍ په سیمه کې د کډوالۍ پر مهال دې نړۍ ته سترګې غړولي. ابتدائیه او متوسطه یې د پېښور د شمشتو کمپ د حضرت قیس بن سعد (رض) په ښوونځي کې لوستي (...) سي) له عالي تجربوي لېسې څخه په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې فارغ شوی، وروسته یې د ابوعلي سینا د طبي علومو په انسټیټوټ د افغان د منځنیو طبي زده کړو انسټیټوټ کې د غاښونو او نرسنګ په برخه کې هم مهاله زده کړې کړي.

د دیني زده کړو تر څنګ یې د کمپیوټر، انګلیسي ژبې؛ د ځمکې د سروې، موبائل انجینر؛ ژورنالیزم او اعتیاد په برخو کې هم لنډ مهالي زده کړې کړي، تېر کال یې د کابل د دعوت پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځی دا ډیپلوماسي د څانګې څخه د لېسانس سند ترلاسه کړ. په طبي او اداري برخو کې لکه اعتیاد او روان درملنه، نرسنګ، ډینټل (دغاښونو دبرخې ډاکټر) (ام، سي، پي، اې) ماین پاکې له مؤسسې سره د ناروغ پال په توګه کار کړی.

همدارنګه تېر کال د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د برګ د سیمې د ټپیانو د تداوي د مرکز سوپروایزر او مسؤل ؤ او سږ کال (۱۳۹۷) د کف د موسسې سره د محمدآغې ولسوالۍ د حفظ الصحې د برخې سوپروایزر دی.

ډاکټر عبدالمالک ستانیزی له وړکتوبه د ادب مینوال پاتې شوی، خو په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې هغه مهال چې د طالبانو رژیم نسکور او هیواد ته نړیوال ځواکونه دننه شول، ډاکټر عبدالمالک ستانیزي د حماسي اشعارو په لیکلو لاس پورې کړ، وخت په وخت به یې د پېښور چاپ له ورځپاڼو لکه وحدت، خبرونه او اونیزو لکه تنویر او همدارنګه له ځینو مجلو لکه: ورځ، هیواد؛ لمن، څرک، شهامت او الفت څخه اشعار، سیاسي، ټولنیز، تحقیقي، ادبي لیکنې، مقالې، لنډې کیسې او تنقیدي بحثونه نشرېدل، ځینې شعرونه د مختلفو ترانو ویونکو لخوا په ترنم کې هم زمزمه شوي.

د تأسف ځای دا؛ چې نوموړي خپلې ډېرې لیکنې د بې غورۍ له امله ورکې کړې، ستانیزی له پېښوره تر کابل او لوګره په مختلفو غونډو کې په سټېج د یوه اور ژبي وېناوال او د خپلو اوږدو، خوږو، پاروونکو او د مثبت پیغام لرونکو فوق العاده نظمونو د لوستونکي او د کلمه کوونکي په توګه منل شوی او بې سارې. طنزیه شاعري یې هم کړې، خو د رومان او غزل تله یې په ټولو برخو درنه ده، د اشعارو شمیر یې له زرګونو اوړي، خو لا هم چاپ شوې ټولګه نلري، د اوږدې مودې راهیسې یې د ژوند د بېړۍ د پرمخ بېولو او مسؤلیتونو له امله ادبي نړۍ سره یو څه لیرې پاتې شوی.

داهم د ډاکټر عبدالمالک ستانیزي یو غزل چې دلته مو نشرته وسپارل.

## غزل

مینه هم سوز ري هم ساز ري
ژوند کې هم دا ټوکي امتیاز ري
یوه شیبه مخ ... نقاب ... ري ...ره
اسلام کې یو نظر جواز ...ري
یوه مسکا یا یون ...ظر ب...ان...ه شي
عجیب کیفیت د عشاق آغاز ...ري
خندا سره ...ه انګو لاس کیږدي
زما آشنا دا بی...ل ان...داز ...ري
تعریف د حسن به یې داسې وکړم
ملا د هوسۍ ستر...ګې د ب...از ...ري
د کال ستړیا ...ه ی...وې ش...پې اوباسي
د ښکل خوب داسې اعجاز ...ري
خلک ښایست؛ دی سړیټوب خوښوي
ستانیزی دغسې مجاز ...ري

# کارگاه اگاهی دهی یک روزه زیرنام تب خون دهنده کانگو راه اندازی شد

ریاست صحت عامه برای قصابان ولایت لوگر پیرامون اگاهی از مرض مهلک وکشنده تب خون دهنده (کانگو) کارگاه اگاهی دهی راه اندازی گردید. داکتر نورعباس قاسمی معاون ریاست صحت عامه ولایت لوگر گفت: این ورکشاپ یک روزه که بر قصابان مرکز وولسوالی های این ولایت زیرنام آگاهی از مرض تب خون دهنده (کانگو) وسگ دیوانه راه اندازی شده است هدف از آن جلوگیری از شیوع این مرض مهلک وکشنده بوده که در جریان یک روز درمورد علایم، پیشگیری ها، ونشانه های آن معلومات همه جانبه ارایه خواهد شد. آقای قاسمی علاوه کرد که تاحال یک الی دو تن باشنده ولسوالی های برکی ومحمداغه که قصاب هستند به این مرض مبتلا گردیده اند که یک تن از اثر این مریضی جان باخته است. معاون ریاست صحت لوگر از عالمان دینی، رسانه ها وتمام اقشار خواست تا از بین بردن این بیماری مهلک با اداره یاد شده همکاری همه جانبه نمایند.

نظر به معلومات مسولان صحی ولایت لوگر تب خون دهنده (کانگو) که یکی از بیماری ویروسی یا میکروبی شدیدآ ساری مشترک میان حیوان وانسان بوده که میکروب آن توسط یک نوع (کنه) میکروبی شده آلوده که در وجود حیوانات زنده گی نموده وکنه به صورت مستقیم وغیرمستقیم توسط حیوانات گزیده شده از طریق تماس باخون وسایرمایعات وجود حیوان گزیده شده اند به انسانها انتقال میگردد که به گفته منبع در این آواخر در افغانستان 371 تن با آن مبتلا گردید که منجمله 47 واقعه آن خونی بوده که 5 تن آن از بیماری جان های خود را از دست داده اند. نظر به یافته های داکتران علایم ابتدایی بیماری تب خون دهنده یا کانگو شامل تب شدید، درد عضلات، شخ ماندن گردن، ترس از روشنی، دلبدی، استفراغ ودردهای شکم میباشد. **عدیل**

**ګرانو هیوادوالو!**

**سوله دبشریت او انسانیت لپاره الهي نعمت دی، چې لوی خدای (ج) پرموږ پیرزو کړېده، ځکه په سوله کې زموږ ژوند خوندي وي، بې له سولې انسان ژوند هره ګړۍ په ویره او وحشت کې تیره وي.**

**خو راځئ، چې دسولې ښېګڼې خپلو ټولو هیوادوالوته ورسو، څو دسولې له سپیڅلي کلیمې څخه ټول ولسونه آشنایي پیدا کړي او له دې الهي نعمت څخه ټول افغانان ځانونه برخمن کړي او دابه زموږ اتلولي وي، چې خپل ګران هیواد دسولې راوستو په برکت ښېرازه او سمسور کړو.** (جریدې مدیریت)

**لوګره مشې خوار**

**ښې ښې دي باغچې دي دانګورو او چنار**
**لوګره مشې خوار**
**بچیان دي ننګیالي دي، ګړې تاریخ پرې افتخار**
**لوګره مشې خوار**
**چې ورشې محمدآغې ته**
**دسیند غاړې جلګې ته**
**دسرخاب لوړې درې ته**
**ختیځ ته له واغجانه درته ښکاري زرغون ښار**
**لوګره مشې خوار**
**ورځه وړاندې پورک ته**
**نصرو او حصارک ته**
**تورې کوزه بیا جویک ته**
**ښایسته ښکاري بابوس ته الوزي او کلنګار**
**لوګره مشې خوار**
**بار پورته پل علم ده**
**مرکز دکلیو سم ده**
**چاوړ شوي پرې قلم ده**
**ابدال صاحب ته ګوره پاس په غره یې دی مزار**
**لوګره مشې خوار**
**پاس کلی دپادخوا**
**ښایسته یې ده هوا**
**چیني تورې شاوخوا**
**د ولي میرسیدمحمد ده بس همدغلته مزار**
**لوګره مشې خوار**
**سویل ته یې التمور**
**په غروکې خوږجه انګور**
**سیاه ګاوه هم په غرور**
**دغرونو منځ کې شته دي کوچني کلي دجوزار**
**لوګره مشې خوار**
**په خرخ کې دي غونډان**
**داځای دبهایې جان**
**تکړه یې دي ځوانان**
**چې وړاندې بر ورتیر شې دی په غرونو کې خروار**
**لوګره مشې خوار**
**راوګرځه بیدک ته**
**راجان او برکي بارک ته**
**چهل تن قلعه احمدک ته**
**پندې په لار چې ولاړ شې وبه ویني شاه مزار**
**لوګره مشې خوار**
**را واوړه په شاکینو**
**په کلي دبابیانو**
**جرګو ته دټینډانو**
**جنوب دکتاب خیلو ته کلا ده دستاردار**
**لوګره مشې خوار**
**دره د دوبندي**
**لارې ډیرسخت تنګې**
**هر خوک پکې خوندي**
**کله ازرې ته ځوک ځې په لټه کوره یې ده لار**
**لوګره مشې خوار**
**خوښۍ ځای دخوښي ده**
**پرې میشت شیعه سني ده**
**وحدت یې قدیمي ده**
**په چارو د ژوندون کې دي یوبل سره همکار**
**لوګره مشې خوار**
**نایب امین الله**
**کوم ورته دعا**
**غازي ؤ په رښتیا**
**اول جنګ دانګلیس کې ؤ فاتح دبالاحصار**
**لوګره مشې خوار**
**څرخي غلام حیدر**
**رښتیا وه زړور**
**هرخوک دي پرې خبر**
**شهید شو په پنجدې کې دافغان سپه سالار**
**لوګره مشې خوار**
**دخوست په خلکو ګران**
**دا ؤ فیض محمدخان**
**هوښیار لکه لقمان**
**په خوست او پکتیا کې یې چې کړي ؤ ډیر کار**
**لوګره مشې خوار**
**بل ځوان عبدالمالک**
**په فکر کې ؤ ځیرک**
**خدمت کې ؤ ډیر کلک**
**وطن دین او ناموس ته ؤ بې حده وفادار**
**لوګره مشې خوار**
**لوګر کې ښه ځوانان**
**بې شمیره قهرمانان**
**ددین خدمتګاران**
**زرین تاریخ یې پراینښې ده ولس ته وار په وار**
**لوګره مشې خوار**
**دا توره اوقلم**
**خدمت کې دصنم**
**غمونه مې کړي کم**
**لیکل کړه »جهادالله« دابه ستاوي یو یادګار**
**لوګره مشې خوار**